مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۸/۰۵

# لکه روانه قافله د مانا

ته داسې وې چې زندګي مې ستا لپاره وکړه
چې ستا لپاره شوه، نو ما هم بېزاره وکړه

ته داسې وې چې د بڼو ترمنځ دې شپه راکړله
او دلته شپه مې  هم د دې غشو له ډاره وکړه

ته داسې وې لکه په زړه پورې ګنډلی خنجر
چې ته ترې ووتې په تا پسې یې داره وکړه

ته داسې وې لکه روانه قافله د مانا
زه چېرې نه‌تلمه په ما دې ولې لاره وکړه

ته داسې وې لکه دا ستا نظر ته زما تلوسه
ما خپل وجود ته هم ستا سترګو نه هینداره وکړه

ته داسې وې، چې نه وې هرې کوڅې زه خوړلم
ته چې ترې لاړې ماهم کډه له دې ښاره وکړه

ته داسې وې چې پوهېدې په دې خبره دې مرم
یاره نو ولې؟ ولې؟ ولې دې نو یاره وکړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ